UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

# د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د عمومي منشي ځانګړې

# استازی ښاغلی تدامیچي یاماموتو لنډ ګزارش

*[څرنګه چې وړاندې شوی]*

## نیویارک، ۱۰ مارچ ۲۰۱۷

***

ښاغلي رئیس، او د امنیت شورا درنو غړو،

د ملي یوالي حکومت کابو د خپل پېنځه کلنې مودې نمایي ته نږدی کېږی. د دوي د ځېنو هڅو بریالیتوب زموږ ترسترګو کیږي پداسې حال کې چې ډېر څه نور هم باید ترسره شی. داسې ښکاري چې افغانستان له نیکه مرغه د بریالېتوب لپاره ډګر چمتو کوې، او په نړیواله توګه د وارسا او بروکسل ناستې د بېړنې پراختیا لپاره زمینه برابره کړه. د هېواد په دننه کې د ملي یوالي حکومت د ټولنیزو چارو په ډګر د چوپړ د لا ښه کولو په موخه پراختیایي پروګرامونه معرفي او وړاندې کړي دي. اوسمهال د فعالیت د ښودلو وخت دی چې پایلې باید تقدیم شي چې د افغانانو د نن او د راتلونکې ژوند ښه کړي.

یوه بله ننګونه هم شتون لري، حکومت باید د شخړې او ناوړه امنیت سره سره د سولې او اقتصادی ودې یوه هراړخیزه تګلاره پلې او تعقیب کړی. پداسې حال کې چې حکومت د ستونزو او ننګونو سره خپله مبارزه پیاوړې کړی دی، لازمه ته چې نړیواله ټولنه هم د اړتیا وړ سیاسي او مالي ملاتړ هم چمتو کړي.

ښاغلی رئیس،

اجازه راکړئ چې دري داسې ډګرونو باندې وضاحت درکړم کوم چې د افغانستان حکومت په هغه کې ښه پرمختګ کړی دی او په هغه کې د اداری فساد په وړاندې مبارزه، د ټاکنو پروسه او د ښځو اقتصادې پیاوړتیا شامل دي.

لومړي، د افغانستان حکومت د اداری فساد په وړاندې نوي ګامونو اخېستې دی چې د تېر سره د هغه اړیکه پریکوي. پداسې حال کې چې د اداری فساد په وړاندې عدلي او قضایي مرکز د فساد په اړوند قضیې څېړي، حکومت د اداری اصلاحاتو په ډګر

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

کې د سمون له لارې د اداری فساد په وړاندې مبارزه کوي چې په هغه کې د عامه چوپړتیاوې د مدیریت پشپړتیا د بیا پر ځای کولو هڅې هم شامل دي. خو په عین حال کې دا هم باید ومنو چې په امنیتي سکتور کې د اداری فساد په وړاندې د مبارزی په خاطر ډیر څه باید ترسره شي کوم چې ښه سیاسي مشرتابه او کلک هوډ ته اړتیا لري. په دې اړوند زه خوشحاله یم چې تاسې ته خبر درکړم چې یوناما د اداری فساد په وړاندې د مبارزی په اړه خپل لومړي راپور ډیر ژر به چمتو او وړاندی کړي چې دغه راپور "د افغانستان د جګړې بل ډګر، د اداری فساد سره مبارزه" تر عنوان لاندی به وي. راپور د اداری فساد سره د مبارزی په ډګر کې د حکومت لاسته راوړنې په ګوته کړي او د لا زیات پرمختګ په موخه د لارې چارې وړاندیز هم کوي.

دوهم، حکومت په لوړه کچه ژمنه کړې چې د پارلماني ټولټاکنې به ترسره کوي چې د افغان ولس لخوا به هغه عادلانه، ټول شموله او روڼ وګڼل شي. د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون کمشنران ټاکل شوي دي. دا هڅونکې دی چې د ټاکنو لپاره چمتوالې روان دی او د ټاکنیزو سمونونو اجنډا مخ په وړاندی روان دی. په هر حال د ټاکنې د پروسې په اړه د عامه خلکو باور بیا رغول، د بوې ننګونې په ډول پاتې دی. زه هیله مند یم چې ټول خواوې به پر یو ټول شموله پروسه باندې پاڼګونه وکړي او د لا ښه ټاکنو لپاره یو اړین پراخ سیاسي ملاتړ رامنځته کړي.

دریم، حکومت یوازی دوه ورځې مخکې د ښځو د نړیوالې ورځې په مناسبت، د ښځو د اقتصادې پیاوړتیا په موخه د ملي لومړیتوب پروګرام په لار واچول. په دغه پلان کې ښځې د یو مهم اقتصادي فکتور په ډول پېژندل شوي چې د هغوي ونډه د افغانستان په راتلونکې کې ډیر مهم ګڼل شوی دی. په نړۍ کې افغانستان یو د هغو هېوادونو له جملې څخه دی چې د یوې ښځې لپاره ډېر ستونزمن ځای دی. د زیاتو ښځو لپاره د دوی کیسه تبعیض، بېوزلي او ظلم دی. د دا ډول چاپېریال د بدلون لپاره لازمه ده چې ښځو ته بشپړ مشارکت او مشرتابه ور په برخه شي او باید په ټولو کچو کې د فیصله کوونکې په ډول د دوی درناوی او ملاتړ وشی. د دې لپاره حکومت، مدني ټولنې او نړیوال شریکان باید پیاوړي ملاتړ چمتو کړي.

ښاغلی رئیس،

اجازه راکړئ چې د پرمختګ او اقتصادې ودې په ډګرونو کې یو لړ معلومات وړاندې کړم. لازمه ده چې د پراختیا او ودې ستراتیژیګانې خپل مشخصې پایلې وړاندې کړي. په تېرو دوو کلونو کې د ناوړه امنیتې چاپېریال له امله د چوپړ وړاندی کول په زیاته پیمانه د ستونزو سره مخ شوی دی. لدې امله په ځینو مهمو شاخصونو کې، لکه روغتیایي کلینیکونو او د زده کړې آسانتیاو ته لاسرسی په ډګرونو کې مخ په ښکته رجحان ترسترګو شوی دی. کابو نه میلیون وګړي یا په بل بیان، د نفوسو یو دریمه برخه، د بېوزلې تر کرښې لاندې ژوند کوي، چې د نفوسو د کچې د زیاتېدو په پام کې نیولو سره د سرې پر سر باندې د ناخالص کلني تولیدات کچه به نور هم کم شي. لازمه ده چې همدا اوس د دغه مسېر د بېرته را ګرځولو په خاطر اقدام وکړو. د بروکسل په هېواد کې ترسره شوي ژمنې او همدارنګه د افغانستان د ملي سولې او پراختیا کاری چوکاټ او د ښهروندې میثاق، په دغه ډګر کې د پرمختګ لپاره یو مهم فرصت چمتو کوی. په هر صورت باید ووایو چې دا نه آسانه او نه هم ساده پروسه ده. د افغانستان د حکومت هڅې په دغه ډګر کې د نړیوالو شریکانو دوامداره او همغږی شوي ملاتړ ته اړتیا لری. اړتیا ده چې د حکموتوالې، ټولنېز چوپړتیا او د خصوصې سکتور د پرمختګ په خاطر او همدارنګه د یو متوازن ودې په موخه، لا زیات متمرکز اقدام وشي. موږ ټول باید لاس په لاس کار وکړو تر څو د افغان وګړو په ژوند او اقتصادی او ټولنېز پرمختګ په ډګرونو کې محسوس بدلون ترسترګو شې.

UNAMA SRSG Briefing | UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

ښاغلی رئیس،

د بغاوت او نا امنه چاپېریال کې د یو ملت پرمختګ خورا ستونزمن کار دی. که چېرې امنیت ښه شي، اقتصادی وده تحقق مومي او د هغو پلانونو د بشپړولو لپاره مهم دي کوم چې د یو هیواد وګړي د هغه مستحق دي.

د امنیتي چاپېریال خرابیدل هم د سترې اندېښنې لامل دی، د ۲۰۱۷ کال په سر کې د سړې هوا په شتون سره وسله والې نښتې پرته له ځنډه دوام لري. زه د هغه راپورونو څخه ډېره اندېښنه لرم کوم چې د پسرلی په فصل کې د ناوړو شخړو پېښېدل ته اشاره کوی. موږ باید د بهرنیو جنګیالیو شتون، د داعش د ډلې په ګډون، په اړه هوښیار واوسو.

یوناما تېر کال د ملکي وګړو د تلفاتو تر ټولو زیات شمېر پېښې ثبت کړي له کومه راهېسې چې دغه دفتر د دا ډول پېښو ثبت او مستند کولو کار پیل کړی دی. دوه ورځې مخکې د یوې ډېره ستره چاودنې شاهدان وو کوم چې افغان وګړي د هغه قیمت پرې کړل. دا جریان باید ودرول شي. دا پداسې حال کې دی چې د جګړې خواوې په څرګند ډول سره ژمنه کړی چې د ملکی تلفاتو خیال به ساتي او باید پرېکنده هڅې وکړي چې دا ډول بیانونه د افغان ولس په ریښتېنې خوندیتوب باندي بدل شي او د ملکي وګړو تلفات کم کړي. زه سترګې په لار یم چې د افغانستان حکومت ژرترژره، "د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي او کمولو ملي پالېسي" تصویب او هغه پلي کړي. د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوي کول شونې او د مخنیوي وړ دی. زه حکومت هڅوم چې د معافیت دود د له منځه وړلو په اړوند خپل اخیستل شوي ګامونه تعقیب او پلی کړي او دا واضح کړي چې یو شخص هم د قانون څخه بر ندی.

په ۲۰۱۶ کال کې د امنیت خرابیدل د ترټولو زیات داخلي بې ځایه کیدو ته لار چمتو کړ چې په هغه کې تر ۶۵۰۰۰۰ تنو څخه زیات د خپلو ځایونو څخه بې ځایه شول. د پاکستان د هېواد څخه تر ۶۲۰۰۰۰ تنو څخه زیات بېرته راستنېدونکي هېواد ته راغلل او تمه کېږي چې په کال ۲۰۱۷ کې د داخلي بې ځایه شویو او بېرته راستنیدونکو کچه په ورته ډول سره به پاتې شي. دا ډول رجحانات په لنډ مهاله موده کې ستر بشري مرستو ته اړتیا لري. حکومت د بېرته راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو کسانو د ادغام لپاره د پیاوړي پلان جوړونې مشري کړي خو پدې اړوند دوامداره نړیواله مرستې ته اړتیا شته.

ښاغلی رئیس،

دا واضحه ده چې د افغانستان کشاله نظامې حل لاره نلري. دا هم باید ومنو چې دوامداره شخړه او جګړه یوازی افغان وګړو ته بدبختي راوړي او د اقتصادی ودې او پرمختګ بنیاد کمزوری کوي. زما د وروستی ګزارش راپدیخوا، ما په پراخه پیمانه د سیمې هېوادونو څخه لېدنه ترسره کړه چې خبرې وکړو چې په څه ډول د سیمې هېوادونه کولای شي د سولې د هڅو لپاره ملاتړ چمتو کړي او یا رغنده ونډه ولوبوي. زه د دې لیدنو څخه وهڅول شوم. ما حس وکړ چې په ګاونډیو هېوادونو کې زیات چمتوالې شته چې د سولې په ډګر کې ملاتړ وکړي. دوي د سولې او سیمه ییزه ټیکاو لپاره د ښه چاپېریال رامنځته کولو پر اهمیت باندي ټېنګار وکړل. زه اړوند هېوادونه او په ځانګړې ډول ګاونډې هېوادونو څخه غوښتنه کوم چې د سیمه ییزې سولې په هڅو کې د افغانستان د حکومت ملاتړ وکړي. یوناما د همدې موخې په خاطر د افغانستان د حکومت سره په ګډه کار کوی. په همدې اړوند زه د افغانستان او پاکستان د حکمتونو تر منځ را رامنځته شوي تاوریخوالې له امله خورا خواشېنې یم او د دوی څخه غواړم چې د خبرو اترو له لاری تاوتریخوالې کم کړی.

د افغانستان راتلونکې باید ټول د افغان ولس په مالکیت او مشرتوب سره جوړ شي. د سولې لپاره د تاوتریخوالي پر ځای د خبرو او مشورو لاره تعقیب شي. طالبان مخکې لدې چې شرطونه وړاندې کړي باید د سولې خبرو ته کېني. زه پر ټولو اړوندو فعالینو باندې غږ کوم چې د همدې هدف پخاطر خپل ټول نفوذ تعمیل کړي. حکومت، ګاونډې هېوادونه او نور اړوند خواوې باید دا پيغام پياوړي او خپور کړې چې طالبان کولای شې د افغانستان د راتلونکې او همدارنګه د هغه د سیاسې او ټولنېز جوړښت یوه برخه وي.

د افغانستان راتلونکې باید د ټولو ملحوظاتو او ملاحظات څخه پورته وي. په ساده بیان سره، یوه بې‌پایه جګړه او تاوتریخوالي د منلو وړ ندی. موږ ټولو ته لازمه ده چې سوله د ځان لپاره نوي او مطلق امر وګرځو. یوناما، د افغانستان د حکومت سره له نږدې مشورو سره تیار ولاړ دی چې پروسه پر مخ بوزې او د سولې پخاطر خوځنده ملاتړ رامنځته کړي. د افغانستان په مخ کې تر ټولو مهمه مبارزه یوه ده او هغه دوامداره سولې ته رسېدل دی.

ښاغلی رئیس،

یوناما، د دغه شورا لخوا د نوی ماموریت مسودې ته سترګې په لار دی. موږ د هېلو سره تاسو ته، د افغانستان د خلکو د ګټو پخاطر خپل د ماموریت په لا زیات اغیزمن پلې کولو کې، د خپل ژمنو ډاډ درکوو.

ستاسو څخه مننه.

***

*یوناما له افغان ولس او دولت سره مرسته کوي څو سوله او ټیکاو ترلاسه کړي. د یوه سیاسي ماموریت په څېر د هغې له صلاحیت سره سم، یوناما د ښځو په مخنیوي او حل کې مرسته کوي، شمولیت او ټولنیزې همغږۍ ته وده ورکوي او دغه راز سیمه ییزه همکاري غښتلې کوي. ماموریت د اغیزمن حکومتولۍ ملاتړ کوي، ملي مالکیت او حساب ورکوونکو ادارو ته وده ورکوي کوم چې بشري حقونو ته د درناوي پر بنسټ جوړې شوي دي. یوناما د ښځې د رامنځته کیدو، زیاتیدو یا پراخیدو د مخنیوي په موخه د هغو ډیپلوماتیکو ګامونو په ګډون چې د ادارې پر خپلواکۍ، بې پرېتوب او ریښتینوالۍ متکي دي، د ښه نیت هڅې او نور کلیدي خدمتونه وړاندې کوي. ماموریت د افغان پراختیا او بشري لومړیتوبونو لپاره د نړیوال ملاتړ همغږی کوي.*